NØDVARSEL

# ستاسو په موبایل کې بیړنۍ خبرتیا

## اخطار ولولئ، مشوره تعقیب کړئ.

جدي پېښې پرته له خبرتیا پېښېدای شی. کله چې دا پېښې رامنځته شي نو دا مهمه ده چې تاسو باید په چټکۍ سره د رامنځته کېدونکو پېښو په اړه معلومات ترلاسه کړئ او د دې په اړه چې تاسو باید څه وکړئ. له همدې امله موږ د بیړنۍ خبرتیا سیسټم پیلوو. که چیرې ستاسو په ځای کې یو داسې حالت رامنځته شي چې ژوند او درملنې ته جدي ګواښ پکې شامل وي نو تاسو کولای شئ د خپل ګرځنده تلیفون له لارې یوه خبرتیا ترلاسه کړئ چې مهم معلومات پکې شامل وي.

بیړنی خبرتیا د یو لنډ متن څخه عبارت ده چې تاسو ته دا خبر درکوي چې **څه پېښیږی او دا چې تاسو باید څه وکړئ.** ستاسو د پام راجلبولو لپاره، ستاسو تلیفون به وایبریټ شي او د سایرن په څیر یو لوړ غږ به وغږوي. کله چې تاسو بیړنی خبرتیا ترلاسه کړئ نو خبرتیا ولولئ او مشوره تعقیب کړئ.

## هغه خدمت چې د عامه چارواکو لخوا وړاندې شوی دی

د بیړنۍ خبرتیا سیستم د ناروی د چارواکو لخوا وړاندې شوی خدمت دی. پولیس او ملکی دفاع د دې توان لری چې اخطارونه واستوي.

یو شمیر نور اروپایي هیوادونه د دې ټیکنالوژۍ په کارولو کې ښه تجربه لري ترڅو خپل اتباع د جدي خطرونو لکه سیلابونو، ترهګریزو بریدونو او کیمیاوي تویېدلو په اړه خبر کړي. په ګرځنده تلیفونونو کې بیړنۍ خبرتیاوې کولی شی دلته په ناروې کې د ژوند او روغتیا په ساتنه کې مرسته وکړی.

د بیړنۍ خبرتیا سیستم هغه وسیلې بشپړوي چې د خلکو د خبرولو لپاره کارول کیږی.
په ناروی کې موږ لا دمخه د یو څه وخت لپاره عامه اخطارونه درلودل چې د سایرن له لارې ورکړل کیدل کوم چې په لوړ غږ سره سیګنال لري چې تاسو باید د معلوماتو ترلاسه کولو هڅه وکړئ. د یوې جدی پیښې په حالت کې به د څو وسایلو له لارې مهم معلومات خپاره شی، د بیلګې په توګه، راډیو، تلویزیون، آنلاین ورځپاڼې، د عامه چارواکو ویبپاڼې او ټولنیزې رسنۍ.

لکه څنګه چې په هرو شپږو میاشتو کې سایرنونه ازمویلی کیږی، په ګرځنده تلیفونونو کې د بیړنۍ خبرتیا سیستم به هم په منظمه توګه وازمویلی شي.

## د بیړنۍ خبرتیا سیستم څنګه کار کوی

بیړنۍ خبرتیا فقط په څو ثانیو کې د ګرځنده تیلیفونو د شبکې له لارې ټولو هغه ګرځنده تلیفونونو ته لیږل کیږی کوم چې دا ډول پیغامونه ترلاسه کولی شي. د خبرتیا متن به ستاسو د تلیفون د ژبې تنظیماتو سره سم یا په نارویی یا انګلیسی ژبه څرګند شي. که چیرې ستاسو تلیفون د متن وینا ته بدلولو ملاتړ کوي نو تاسو کولای شئ چې پیغام په لوړ غږ سره واورئ.

د بیړنۍ خبرتیا سیستم ستاسو د تلیفون شمیره یا ستاسو یا ستاسو د تلیفون په اړه نور معلومات نه کاروي. تاسو اړتیا نه لرئ چې د بیړنیو خبرتیاوو ترلاسه کولو لپاره یو اېپ ثبت یا ډاونلوډ کړئ او دا خدمت په بشپړ ډول وړیا دی. تاسو باید په یاد ولرئ چې داډ ترلاسه کړئ چې ستاسو تلیفون د وروستي سافټویر سره اوسمهاله دی.

نور معلومات له emergencyalert.no څخه ترلاسه کړئ

POLITIET

dsb Direktoratet for samfunnssikkerhet og beredskap

SIVILFORSVARET